 څېړنيزه پاڼه (لنډه نسخه)

گاريت پرايس او حميد حکيمي

اسيا- پيسيفيک پروگرام | جولای ۲۰۱۹

# د افغانستان بيا نښلونه دسرحد په اوږدو کې له ښکيلتيا څخه زده کړې



## لنډیز

- افغانستان د پېړیو لپاره د ارتباطاتو یو مرکز و - لکه د اجناسو، مذهبونو او کلتورونو لپاره – چې د اسیا او اروپا په منځ کې او هم په اسیا کې دننه فعال و. د دې هیواد مرکزیت د استعمار په دوره او په وروستیو وختونو کې کمزوری شو. د څلورو لسیزو جګړو د افغانستان موقف له یوه نښلوونکي او مرکزي هیواد څخه په څنګ وزلي واړاوه. په اقتصادي لحاظ د دوامداره پرمختګ لپآره افغانستان دې ته اړتیا لري چې د یوه مرکزي فعاله هیواد حیثیت بېرته تر لاسه کړي. په اوس مهال کې د لویې پیمانې ځو بنیادي پروژې چې مختلفې انکشافي مرحلې طی کوي هڅه کوي دې هدف ته ورسیږي-  په خاص ډول دغه پروژې هڅه کوي افغانستان د منځنۍ اسیا  د هیوادونو چې د انرژۍ له لحاظه بډایه هیوادونه دي او د جنوبي اسیا له هیوادونو سره ونښلوي چې د انرژۍ په کمبودیا اخته دي.
- د افغانستان په ګاونډیو هیوادونو کې اوس دغه درک بیا را ټوکېدلی چې د دوی خپلې ګټې په دې کې نغښتې دي چې له افغانستان سره همکاري وکړي - نه دا چې هغه هیواد ګوښه کړي. سره د دې، د اتصال په اړه یوه عمومي انګېرنه وجود لري  چې له مخې یې سیمه ییزه همکاري په ځینی مواردو کی صرف د یوه لوري په ګټه تعبیر یا تصور کیږي. د مثال په ډول یوه اړخیزه صادرات - لکه د انرژۍ صادرول له یوه لوري څخه - د بل لوري د همکاري په تاوان تمامیږي. په دې برسېره، د ځینو دلایلو له مخې اړیکو ته – د مثال په ډول، له یوه مشخص هیواد څخه په وارداتو باندې متکي کېدل-  په داسې سترګه کتل کیږي چې د وارداتو اخیستونکی هیواد په یوه زیانمنېدونکي ملک اړوي تر دې چې دغه ډول همکاري په دوه اړخیزې ګټورې اړیکه بدله شي.
- دغه لیکنه د افغانستان او د هغه د ګاونډیو ملکونو ترمنځ د اوسنیو همکاریو څو بېلګې تر کتنې لاندې نیسي او هدف یې دا دی چې:
  - هغه پروسې مستندې کړي د کومو په ذریعه چې همکاري صورت نیولی، څو د هغو احتمالي پلي کیدل په نورو مواردو کی د امکان وړتیا پیدا کړي؛
  - وښیي له افغانستان سره همکاري او اړیکې کولای شي په مثبتو اقتصادي ګټو تمامې شي؛
  - هڅه کوي ومومي چې د ګاونډیو هیوادونو په منځ کې دغه   د سرحد دواړوغاړو "محلي" همکاري د لویې پیمانې د اساسي جوړښتونو د پروژو لپآره څه پایلې یا سبقونه درلودای شي او که څنګه.
- په ډېرو قضیو کې، د ګاونډیو هیوادونو نوښتونو ته په لومړي غبرګون کې په شکمنه سترګه کتل شوي. مګر کله چې په کار ولوېدل دغو نوښتونو د هیوادونو د چارواکو او ټولنو په منځ کې مثبت غبرګونونه او احساسات راو پارول. معلومیږي چې د نوښتونو د پلي کیدلو په نتیجه کی د " نمایش اغېزه" د لویې پیمانې نوښتونو او د کوچنیو پروژو لپآره یو ډول اهمیت لري.
- د خلکو ترمنځ مخامخ تماسونه کولای شي هغه کلیشه یي خبرې بې اهمیته کړي چې د افغانستان په اړه په پراخ ډول په کیسو او روایتونو کې اورېدل کیږي. له ګاونډیو هیوادونو سره ډېرو موفقو نوښتونو افغانان د مصرف کوونکو په څېر ګڼلی خو نه داسې چې  دوی تر کوم هدف لاندې وي یا حتی قربانیان وي. د دې پر ځای چې دغه هیواد یوازې د نښلوونکی رابطې په څېر وګڼل شي، په افغانستان کې دننه همکاریو د ګټو پراخېدل ( انرژۍ یا اجناسو ته لاسرسی ) ښایي د لویې پیمانې د پروژو د مالکیت لپاره اسانتیاوې برابرې کړي.
- په روغتیایي اسانتیاوو او د انرژۍ په برابرولو تمرکز په خاص ډول د لاسرسي  زیاتولو لپآره د یوې وسیلې په څېر د ستاینې وړ کار دی او په دې ډول افغان دولت تقویه کیږي. د دغو دواړو اسانتیاوو برابرول په سیاسي لحاظ تر ډېره برېده بې پلوه فعالیت دی او دولت ضد عناصر نه شي کولای د هغو مخالفت وکړي او یا هم په ضد څه ووایي. د روغتیایي پاملرنې لپاره د اړتیاوو رفع کول ډېر ګټور اقدام دی. په سویلي اسیا کې یو زیاتېدونکی او په منځنۍ اسیا کې بیا راټوکېدونکی احساس دا دی چې د انرژۍ په برخه کې سوداګرۍ د سیمه ییزې همکاري لپآره د شروع یوه ښه پیلامه ده.
- په فیزیکي ډول د بنیادي تاسیساتو جوړونه بسنه نه کوي چې مؤفقانه اړیکې تامین کړي. قانوني او د قواعدو سره سم اقدامات اړین دي چې د مناسبو مهارتونو له پرمختګ سره سم تر سره شي تر څو امکان پیدا شي چې متصوره ګټې په پراخه پیمانه د ټولنې ټولو وګړو ته ورسیږي. ساده لوژیستیکي مسالې په نسبي ډول د موجودو خنډونو سبب ګرځي. د مثال په ډول، اسان کار دا دی چې په سرحدونو کې مارکیټونه جوړ شي که دغو مارکیټونو ته عراده جات تګ راتګ وکولای شي او تر دې لا هم اسان کار دی که عراده جات د سرحداتو په اوږدو کی تګ راتګ وکړي او له سرحدونو څخه واوړي. په سرحدونو کې د پاسپورټونو مهر کول لوی خنډ دی چې د سرحد دواړو خواوو ته د اړیکو او مراودې مخنیوی کوي: سوداګر چې په منظمه توګه فعاله دي، مجبوریږي چې خپل پاسپورټونه تجدید کړي. دغه کار په افغانستان او د هغه په ډېرو ګاونډیو هیوادونو کې ستومانه کوونکی کار دی.

## ۱. سريزه

په سويلي او منځنۍ اسيا کې کلتوري مشابهتونه د سياسي سرحدونو په دواړو خواوو کی سره شريک دي. دغه سرحدونه د دې پر ځای چې د خلکو په منځ کې اړيکې ټينګې کړي، په اغلب ډول خنډونه يې ايجاد کړي. په تاريخي لحاظ د سرحدونو دواړه خواوې له متجانسو سياسي واحدونو سره تړلي وو: د سويلي اسيا زياته برخه په بريتانيوي هند پورې تړلې وه او د منځنۍ اسيا جمهوريتونه د شوروي اتحاد برخې وې. له خپلواکي وروسته (لومړيو هيوادونو په ۱۹۴۰ کلونو کې او دويمې ډلې هيوادونو په ۱۹۹۰ لسيزه کې) هر يوه نوي جوړ شوي هيواد هڅه کړې ده چې ځان خپلواک تعريف کړي او د ملي هويت احساس ايجاد کړي. د دغه هدف لپاره د ملت جوړونې څو پروژې په کار ولوېدې چی د دغو پروژو په ذريعه هر يوه هيواد د خپل ګاونډي هيواد په وړاندې د ملي هويت او پېژند احساس تقويه کړ. د تګ راتګ او خوځښت آزادي (د اجناسو، خدماتو او خلکو تګ راتګ) په دې ترڅ کې د يوې قاعدې نه، بلکې استثنايي بڼه غوره کړه او سرحدي سيمې په عموم ډول په منفي مانا تعبير شولې.

افغانستان د منځنۍ او سويلي اسيا په منځ کې پروت دی – يا که له يوه مثبت نظره ورته وګورو افغانستان په دواړو خواوو کې شامل دی. د پېړيو لپاره دغه هيواد د اجناسو، خلکو او افکارو د دخول يو ځای وو. د استعمار په دوران کې په دې ملک باندې بين المللي سرحدات تحميل شول چې د روسيي او برتانيې د امپراطوريو ترمنځ يوه حايله سيمه ايجاد شي. د ريل ډېر شمېر لارې په مختلفو فاصلو کې جوړې شوې وې چې د افغانستان تر سرحداتو پورې غځېدلې وې، خو له بندرونو څخه ها خوا قطعه شوې دي. له افغانستان سره نښلونه د يوه تهديد په څېر – د تعرض د پراختيا  لپاره د يوې وسيلې په ډول – وپېژندل شوه، نه د يوه فرصت په څېر.

له لسيزو جګړو وروسته، د يوويشتمې پېړۍ افغانستان د سويلي او منځنۍ اسيا په وړاندې په حاشيه کې پاتې شو – له نورو سيمو څخه جدا او لېرې – دا رنګه له خپلو ګاونډيو چين او ايران څخه ګوښه دي. داسې يو تمايل شته، اوکيدای شي بې دليله هم نه دی چې افغانستان د سيمې د بې ثباتي لپاره د يوه منبع په څېر تعريف شي تر دې چې د يوه باالقوه فرصت په ډول وليدل شي چې د متقابلې ګټورې همکارۍ او اړيکو مرکز وي. په دې ډول، افغانستان د اسلامي توند لاريتوب د يوې منبع په ډول تورن شوی او دغه راز د نشه يي توکو د غير قانوني اقتصاد درلودونکی ګڼل کيږي چې خپل هر ګاونډي هيواد ته زيان رسوي او د فساد په پراخولو کې مرسته کوي. په دې برسېره، ښايي يو بديل نظر شتون ولري – په افغانستان کې چی کوم حوادث يا اجناس او انګېرنې را پيدا کيږي د اوسنيو کورنيو ستونزو د شدت سبب ګرزي – مګر دغه نظر هم داسې نه معلومېږي چې د ښې راتلونکې په اړه هيله مندي پيدا کړي.

د مثبتو بهرنيو اړيکو د هڅولو لپاره ضروري ده چې د افغانستان په اړه بهرني ادراکات او نظريات ( او په خپله د افغانانو په اړه) بايد يو نورمال شکل اختيار کړي. په دې ډول به د پايښت لرونکي افغان دولت د تاسيس لپاره يو مخکينی شرط پوره شي. په داسې حال کې چې سياسي ثبات يوه لنډ مهاله اړتيا ده په اوږد مهال کې اقتصادي ثبات په دې پورې اړه لري چې افغانستان يو ځل بيا د سيمه ييزې نښلونې د يوې وسيلې په ډول تعريف شي يا د منځنۍ او سويلي اسيا ترمنځ د يوه محور بڼه اختيار کړي. دغه حالت په خپل وار د دې تقاضا کوي چې د سرحدي سيمو د موقف په اړه له سره فکر وکړو د کومو په ذريعه چې دغه ډول اړيکې کېدای شي ايجاد شي.

په يوه کچه، د سرحدونو په دواړو خواوو کې مشترک قومونه او په خپله د سرحدونو نفوذ منونکی خصلت افغانستان ته په نسبي ډول د دې زيات امکان ورکوي چې له خپلو ځينو ګاونډيو سره نژدې شي. دغه حالت په سيمه کې په وچه محاط نور هيوادونه نلري. سره د دې، په رسمي کچه د خلکو ترمنځ د مخامخ تماسونو مخنيوی په دې ذريعه شوی چې د ويزې ضرورتونه او نور بېروکراتيک خنډونه ايجاد شوي. دغه خنډونه د حقيقي يا د مبالغه اميزه امنيتي اندېښنو له امله نور هم تقويه شوي.

د افغانستان په شمال کې سره د دې چې قومي اړيکې موجودې دي، د مرکزي اسيا دولتونو تمايل ښودلی چې په افغانستان کې له اوزبک، ترکمن او تاجک زورواکانو سره په مستقيم ډول رابطې ټينګې کړي د دې په ځای چې هغه امکانات وپلټي کوم چې په افغاني ټولنو کې ميسر وي. دغه امکانات د مراودې د يوه خاص ډول په ترڅ کې ميسرېږي چې له ټولنو سره مراوده له ”کوز څخه پورته“ لوري ته اجرا کيږي. پاکستان ځينې وختونه له افغانستان سره په سرحدونو کې د پښتنو نژادي يووالی د يوه تهديد په څېر درک کړی تر دې چې دغه حالت د يوه فرصت په ډول وګڼي او د مشترکو ژبنيو او کلتوري ځانګړتياوو پر بنسټ نورې رابطې ټينګې کړي. دغه راز، د ايران او افغانستان په منځ کې د نشه يي توکو قاچاق د يو بل تهديد تر څنګ د ايران – افغانستان په سرحد کې د سني مذهبه وګړو شتون هم د تهران له نظره يو تهديد دی.

د افغانستان ګاونډيانو په ځينو مسالو کې د افغانستان له بې ثباتي څخه ګټه اخيستې. د مثال په ډول، اوبه د افغانستان په هر يوه ګاونډي هيواد کې يوه زياتېدونکی ستونزمنه مساله ده. د منابعو د نړيوال انستيتوت په قول، د افغانستان له ګاونډيو هيوادونو څخه يوازې تاجکستان او چين داسې هيوادونه دي چې د اوبو له ”جدي خطر“ سره نه دي مخ. افغانستان چې د سيندونو د جريان په پورتني مسير کې واقع دی او د څو لسيزو په جګړو کې يې د اوبو بيخ بناوې ويجاړې شوې، اوبه د هغو ګاونډيانو په ګټه تمامي شوي چې د سيندونو د جريان په کښتني مسير کې پراته دي. د افغانستان بيا ودانونه – که چېرې په کښت متکي هيوادونه وغواړي له اوبو څخه مستفيد شي – په دې ډول يو حساسه مساله ده. له چين او ايران څخه پرته، نور ګاونډي هيوادونه په افغانستان کی د ملت جوړونې له پروژو سره بوخت پاتې شوي. په خپل ځان باندې اتکا کله کله د دې ډول پروژو يوه ذاتي برخه تشکيلوي. د دې پر ځای چې د سرحدونو په دواړو خواوو کې همکاري د اعتماد د جوړونې لپاره يوه وسيله وګرځي، دغه حالت ته ډېرې ځلې د داسې يوه لامل په څېر کتل شوي چې د يوه هيواد سوکالي د بل هغه په زيانمنتوب تماميږي. دا رنګه په منځنۍ اسيا کې ګډ پلانونه چې د برق او اوبو تبادله پکې شامله وې په دې دليل بند شول چې هيوادونه غواړي خپلې اړتياوې پخپله پوره کړي، که څه هم دداسی تصاميمو په نتيجه کې د دغو دواړو اجناسو کمبودي کله کله را منځته شوې ده. البته اوس داسې نښې نښانې ليدل کيږي چې دغه روش په سويلي او منځنۍ اسيا کې د بدليدو په حال کې دی. د مثال په توګه اوس مهال د هند، بنګلديش، بوتان او نيپال په منځ کې د انرژي تجارت جاري دی، په داسې حال کې چې د منځنۍ اسيا هيوادونو هم هغه ګډ سيستم ته مخ اړولی چې د شوروي اتحاد په دوران کې دوی په مشترک ډول ترې مستفيد کېدل.

افغانستان ځان یوه دوه ګوني کشمکش او ستونزمن حالت کې ویني. له یوه اړخه په ګاونډیو هیوادونو کې د افغانستان د سیاسي تګ لورې په اړه مغشوشتیا د دې سبب ګرځېدلې چې دغه هیوادونه په افغانستان کې پانګه اچونې ته زړه ښه نه کړي او په پایله کې د دې هیواد د اقتصادي پرمختګ په وړاندې خنډونه ایجاد کړي. په پای کې، د افغانستان ناتواني چې خپل اقتصاد ته پرمختګ ورکړي په خپل وار ناامني زېږوي. مګر په وروستیو کې داسې بریښي چې د افغانستان امنیت – او له دې امله د ګاونډیو هیوادونو خپل امنیت – د اړیکو له پراخېدو او افغانستان ته له دې فرصت ورکولو څخه کټه اخیستی شي چې دا هیواد په سیمه کې بیا خپل مرکزي موقف تر لاسه کړي، د دې پر ځای چې دې هیواد ته د یوې ستونزې په ډول وکوري او د حل کولو په لټه کې یې شي.

سره له دې، چې د افغانستان دې موقف ته د رسېدو په لار کې بېلا بېلې ستونزې او ګواښونه په لویه کچه شته، دغه لیکنه د همکارۍ څو داسې بېلګې ارزوي چې د سرحدونو په اوږدو کې افغانستان او ګاونډیانو یې په مؤفقانه ډول کټه ترې اخیستې. د افغانستان ډېره برخه انرژي له منځنۍ اسیا څخه واردوي. په اوسمهال کې دغه انرژي یوازې په افغانستان کې مصرفیږي، خو دغه هیواد به بالاخیره وکولای شي چې د منځنۍ اسیا د انرژۍ له لېږد څخه سویلي اسیا ته چې د برق په کمبودۍ اخته دی، ډېر عواید تر لاسه کړي.

د دې لپاره چې دغه پروسه دوام پیدا کړي، په خاص ډول په افغانستان کې باید د پروسې ځایي مالکیت یقیني شي؛ په افغانستان کې دننه د انرژۍ پراختیا یو داسې مهم لامل دی چې دې هیواد ته توانایي ورکوي چې د لېږد د لارې په څېر عمل وکړي. په دې شرایطو کې دغه لیکنه د تاجکستان او په افغانستان کې د بدخشان د ولایت ترمنځ چې یو فقیر ولایت دی او له تاجکستان سره مشترکه پوله لري، د برق د شبکې څخه بهر د انرژۍ د سوداګرۍ پرمختګ مطالعه کوي.

یو شمېر سرحدي مارکیټونه تاسیس شوي دي چې افغانان هلته له خپلو ګاونډیانو سره تجارتي معاملې کولای شي یا له لېرې پرتو هیوادونو څخه اجناس وارد یا صادر کړي او د قیمتونو له تفاوت څخه کټه پورته کړي. افغانستان کېدای شي په یو وخت کې د انرژۍ په رابطه د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د مال د تجارت سوداګرۍ لپاره د اتصال یوه نقطه شي؛ دغه کار هم امکان لري چې داخلي عواید تولید کړي. په داسې حال کې چې اوسني سرحدي مارکیټونه ښایي په اوس مهال کې محدود وي، خو د دې قوي نښې نښانې شته چې افغانستان کېدای شي د مجاز یا مشروع اجناسو مصرف کوونکی یا صادروونکی هیواد شي او په دې ډول اوسنیو مسلطو منفي حکایتونو – او د افغانستان په اړه منفي تصور – ته خاتمه ورکړي.

د پورتني موضوعاتوترڅنګ زمونږه دا لیکنه څو فعالیتونه بیانوي چې د افغانستان او ایران لپاره یو مشترک روش پیدا کړي څو د هلمند د سیند اوبه او د سیستان جهیلونه تنظیم کړي. وروستي یاد شوي جهیلونه په تېره لسیزه کې وچ شوي دي چې د طبیعي چاپېریال لپاره یوه لویه ننګونه ده. په دې خاص اکو سیستم (ecosystem) کې حساسیتونو، سیاستونو او تاریخي حادثو ته په کتو سره د روښونو په رابطه د نورو مشترکو محیطي ګواښونو لپاره مشخصې پایلې درلودلای شي. د طبیعي چاپېریال په زیاته پیمانه تخریب چې د اوږدو جګړو له امله یې پراختیا پیدا کړې، د افغانستان د دوامداره اقتصادي پرمختګ په وړاندې یوه بله ننګونه ده.

له بل پلوه د جګړو په دوران کې په افغانستان کې د طبیعي اسانتیاوو تخریب ډېر افغانان دې ته اړ کړل چې د درملنې لپاره بهرنیو هیوادونو ته لاړ شي.  که څه هم داسې تصور او حکایتونه رامنځته شوي چې افغانان د ګاونډیو هیوادونو په اوږو یو لوی بار دی خو په واقعیت کې هغه افغانان چې ګاونډیواوسیمې هیوادونوته درملنې لپاره ځي د طبي توریستانو په توګه د دغو هیوادونو لپاره د عایداتو یوه ښه منبع برابره کړې. دغه لیکنه همدارنګه، د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د طبي خاصو اړیکو پرمختګ ته یوه کتنه کوي.

## ۲. سپارښتنې

له کلتوري شرایطو څخه خبرتیا، لومړنې شکونه او تردید او له یوې مخصوصې جغرافیایي ساحې سره د ښکېلتیا یو اوږد مهاله پلان د اغېزمنې مداخلې لپاره ښکاره قواعد او اصول دي (دغه شرایط د سرحدونو په دواړو خواوو کې ښایي موجود وي یا نه وي). د بهرنیو بسپنه ورکوونکو یعنی ډونرانو لپاره ښایي دا ستونزمنه خبره وي چې هغوی ته وښودل شي ښکېلتیا په ریښتیا هم د اوږدې مودې لپاره پلان شوې ده؛ هر څومره چې د مالکیت دغه موډل محلي رنګ ولري په هم هغه کچه ښه وي، دغه شرط همدارنګه  د ځایي خلکو د استخدام په برخه کې هم تطبیق کیږي.

د سرحدونو په دواړو خواوو کې د مداخلو لپاره ضروري خبره ده چې له حکومتونو سره کار وشي – او دغه ښکېلتیا باید په مرکزي یا محلي کچه کی وي. په سویلي او مرکزي اسیا کې د سرحد ها خوا ښایي دې کار ته د څښولو په اړه اندېښنې موجودې وي، خو دغه اندېښنې یوازې د رسمي معلوماتو او مرستې په ذریعه محوه  کېدای شي. سادګي د ښکېلتیا په ټولو کچو کې یوه اساسي مساله ده. هر څومره چې روش پېچلی وي، په هم هغه اندازه ښایي ډېرې داسې فرضیې راوټو کیږي چې ګویا زیات شمېر پټې انګېزې شتون لري.

هر څومره چې پروژه په ځایي شرایطو متکې وي، په هم هغه اندازه د ځایي مالکیت احساس ډېر وي او توانایي یې زیاته وي. د لویې کچې ملي یا بین المللي پروژې په شعوري ډول د دې تقاضا کوي چې ځایي مستفیدین ولري. د مثال په ډول، که چېرې ځایي ټولنې چې د بریښنا د انتقال کرښې ته نژدې پرتې وي بریښنا تر لاسه نه کړي، دا ټولنې به د مالکیت کمزوری احساس ولري خو دغه د مالکیت احساس په هغه صورت کې زیاتیږي چې دوی بریښنا ته لاسرسی پیدا کړي. دغه ډول استدلال په سویلي

اسیا کې بیا تکرارېږي: په نیپال کې د هایډرو انرژي پټتوان او په بنګله دیش کې د ګاز له پوټینسیال څخه استفاده نه ده شوې ځکه چې موجوده مارکیټ ته د بهرني مارکیټ په حیث کتل کیږي. یو هیواد هم نه غواړي چې ګاونډي هیواد ته منابع تهیه کړي مخکې له دې چې خپلې داخلي اړتیاوې یې نه وي رفع کړې. سره د دې، د پامیر د انرژۍ بېلګه څرګندوي چې ښایي نیستمن خلک یو فعاله استهلاکي مارکیټ برابر کړي: هغو خلکو ته د انرژۍ تهیه کول چې اساسي اقتصادي فرصتونه نه لري.

له ځایي ټولنو سره د مصرف کوونکو ټولنو په ډول چلند ، نه داسې چې هغوی قربانیان وګڼو، ښایي دې ټولنو ته  توانمندي ورکړي. افغانانو په مختلفو شرایطو کې د دې وړتیا ښودلې ده چې د روغتیا او انرژۍ لپاره لګښتونه په غاړه واخلي، که چېرې روغتیا او انرژۍ ته د لاسرسي "حق" تسجیل شي په دې ذریعه کېدای شي دولت په کلتوري او اقتصادي ساحو کې د بین المللي اړیکو د هڅولو لپآره په ښه پیمانه لګښتونه ومني.

څرنګه چې په سویلي اسیا کې اوس دغه درک ورځ په ورځ تقویه کیږي چې د سرحدونو په دواړو خواوو کې د انرژۍ تجارت دواړو خواوو ته ګټه رسوي او په منځنۍ اسیا کې اوس دغه حقیقت تازه منلی شوی – انرژي کولای شي د  پیل د یوې نقطې په حیث وکارول شي او بیا نوري داسې سرحدي مسالې تنظیم شي او تبادلې رامنځ ته شي چې په اوسمهال کې په سیاسي لحاظ ډېرې حساسې مسالې ګڼل کیږي لکه اوبه.

مهمه خبره دا ده چې د اوسني حالت مستفدین له نظره و نه غورځول شي، حتی که دغه خلک په ښکاره ډول ډېر فرعي  په نظر هم راشي. "مافیا"  چې په دې مساله کې ښکېله ده او د اور لپاره د ډیزل تیل برابروي د انرژۍ د شفافه ډولونو سره مخالفت کوي، د ترانسپورت مافیا د سرحدونو په اوږدو کې  له دوامداره او منظمې سوداګرۍ سره مخالفه ده؛ قاچاق وړونکي (په مجموعي ډول) له ښو او ازادو اړیکو سره راضي نه دي ځکه چې دا ډول اړیکې ښه حکومتولي تقویه کوي. دغه ډول ګروپونه  ښایي په سیاسي لحاظ نفوذ ولري.

هغه ځایونه چې په سرحدونو کې عامه وګړو لپاره د یو بل سره د مستقیم تماس ذریعه او فورم ګرځي – لکه د سرحدونو په اوږدو کی مارکیټونه – د مهمو سیاسي او امنیتي ستونزو په وړاندې متاثره کیږي، که دا ستونزې واقعي وي او یا مبالغه امیزه وي او یاهم مارکیټونه موفقیت ولري او که نه. نوځکه تر څو پورې چې په یوه معینه زماني موده کې د مارکیټونو پرانستل په یقیني ډول تضمین شوي نه وي، ګرانه به وي چې د سرحدونو دواړو خواوو ته په مارکیټونو اتکا او اعتماد تر لاسه شي، ځکه د مارکیټونو بندول دا مانا لري چې ځینې اجناس باید له نورو بدیلو منابعو څخه تهیه شي. په دې برسېره، اتکا کېدای شي داسې تعبیر شي چې د مجبوریت له مخې شوی وی، چې توجیه یې هم شته، ځکه چې مارکیټونه لا پخوا بند شوي دي او د سرحدونو په دواړو خواوو کې د برق صادرات قطع شوي دي. د اعتماد او باور فضا جوړونې ته وخت شرط دی، خو نه شو کولای چې دغه زماني عنصر ته چټکتیا ورکړو.

## د انرژۍ تجارت

د انرژۍ یا برق تهیه کول کېدای شي په بدلونونو کې دومره اغېزناک وخیژي چې په لومړني سر کې موږ د هغه په اړه تخمین نه شو کولای په دې ذریعه تعلیمي فرصتونه ډېرېږي او روغتیا ته په لاسرسي کې پرمختګ راځي. په دې ترځ کې، په سړو سیمو کې هغه پیسې او وخت چې د سون د لرګیو د رانیولو یا ټولولو لپاره په کار دي، سپمول کیږي. دغه سپما کېدای شي د خلکو د اقتصادي پرمختګ او هوساینې لپاره ولګیږي او ورسره نورې ګټې هم ولري. د مثال په ډول، د چاپېریال په ساتنه کې ګټور ثابتیږي. دغه راز، د برق نشتوالی څرګندوي چې ولې ځینې ټولنې نیستمنې پاتې شوي. په دې ډول، د خلکو د پیرودلو قوه ورسره تر هغه لوړیږي- په خاص ډول که د ځینو غریبو ټولنو د سبسایډي پروګرام په نظر کې ونیول شي- چې ښایي فکر یې وشي.

د انرژۍ تهیه کول په افغانستان باندې ډېره مهمه اغېزه درلودلای شي. ډېر افغانان د جګړو په پرتله د لوګي له تنفس کولو څخه  مري- د سون د لرګیو اړتیا په چاپېریال هم ناوړه اغېزه کوي او په نیستمنو ټولنو کې پیسې او وخت دواړه مصرفوي. د رڼا تهیه کول د کورنۍ  لپاره وخت پیدا کوي او ماشومان کولای شي مطالعه او زده کړې وکړي. د انرژۍ د تهیه کولو ګټې د لوې شبکې له لارې یا له هغې څخه بهر، له خپلې بیې څخه زیاتي ګټې رسوي.

## په سرحدونو کې مارکیټونه

د بیخ بناوو د جوړولو کار ضروري دی، خو په خپل ذات کې په یوازې ډول د دې لپاره کافي نه ده چې په پرلپسې ډول اړیکې تضمین کړي. نرمې بیخ بناوې – که انساني منابع وی که قانوني چوکاټونه وي- باید په موازي ډول طرح شي او پرمختګ وکړي. اداري خنډونه هم کولای شي چې د اړیکو د ټینګولو نوښتونه تر اغېزې لاندې راولي. د سرحدونو په دواړو خواوو کې د اړیکو د نیولو په لار کې لوژیستیکي خنډونه او موانع نقش لري: د پاسپورټ درلودل چې په سرحد کې باید مهر وربانديې ولګول شي (په هغو ملکونو کې چې د نویو پاسپورټونو تر لاسه کول اسان کار نه دی) په ښکاره ډول د سوداګرو او مصرفوونکو دواړو لپاره یوه ستونزه ده. له لاریو څخه د مالونو ښکته کول او په نورو وسیلو کې د هغو بارول د اجناسو د ترانسپورت په بیو کې د زیاتوالی سبب ګرزي – که څه هم امنیتي اندېښنې (حقیقي وي او که مبالغه وي) ښایي دغه موجود شرایط تبریئه کړي، نوښتګر افکار (لکه د مثال په ډول، د پیژند پاڼو یو بل شکل تهیه کول چې سرحدي مارکیټونو ته د لاسرسي اجازه ولري) کولای شي له رسمي پالیسیو څخه بهر بدیلې لارې پیدا کړي.

## د سرحدونو دواړو خواوو ته اکو سیسټمونه

مشترک اکو سیسټمونه (ecosystems) ښايي په سیاسي لحاظ ډېر ستونزمن وخیږي، په خاص ډول د اوبو په اړه او دغه مسالې په سیمه ییزه کچه هم ستونزې راولاړوي. په دې برسېره، د چاپېریال تخریب د داخلي شخړو په شدت کې نقش لري او د کرنیزو فعالیتونو په وړاندې خنډونه ایجادوي. هڅې چې دغه ضررناکې حلقوي اغېزې په یوه ګټوره دایره تبدیلې کړي، که څه هم د ننګونو ډک کار دی، خو په ښکاره ډول ګټور اقدام دی.

د ډېرو اکو سیسټمونو په اړه چې د افغانستان او د ګاونډیو هیوادونو ترمنځ مشترک دی، په اوسمهال کې دومره کافي شواهد نشته چې پر بنسټ یې تصمیم ونیول شي. دغه شرایط د یوه بهرني بې پلوه قضاوت کوونکی ضرورت ایجابوي چې شواهد راغونډ کړي. د دې ستونزې د حل یوه بدیله طریقه دا ده چې که په دواړو خواوو کې د ظرفیت اندازه په نسبي ډول یو شانته وي، مشترک ټیمونه کېدای شي ایجاد شي چې علمي څېړنې تر سره کړي. هره مشترکه پروسه کولای شي له مختلفو هیوادونو څخه د خلکو او سازمانونو ترمنځ چې په مشابه مسالو باندې کار کوي، د اعتماد د جوړونې په مقصد ګټور وخېږي.

پر دی مسایلو پرمختګ تضمین شوی نه دی مګر په دې پورې تړلی چې ښکېل هیوادونه کوم ډول داخلی سیاستونه لري. په نتیجه کې، هغه اوږد مهاله پلانونه چې تر سوال لاندې د هر هیواد ظرفیت او رول له نظره غورځوي، کمې اغېزې لري. په دی اړه هغو روشونو ته اړتیا ده چی انعطاف منوونکی وي او له سیاسي فرصتونو څخه ګټه پورته کوي.

## طبي توریزم

دا خبره تر یوې اندازې د پیغور وړ ده چې هند او پاکستان له ایران سره یو ځای په دې سیالي کې ښکېل دي چې افغان ناروغان د ځان طرف ته جذب کړي.  سره د دې، تر کومه ځایه چې له افغانستان سره د ښکېلتیا خبره مطرح  وي دغه سیالي یو مثبت اړخ هم لري.  څرنګه چې د وړاندوینې وړ څو کلونو لپاره په افغانستان کې د روغتیايي پاملرنې ظرفیت ټیټ معلومیږي، ایران، پاکستان او هند (له افغانستان سره یو ځای) کولای شي په یوه مناسبه فضا کې یو ډیالوګ په دې اړه پرانیږي چې هر یو هیواد د روغتیايي پاملرنې په کومه برخه کې په نسبي ډول ښه امکانات لري.

په افغانستان کې  روغتیايي پاملرنې ته په لاسرسي کې پرمختګ په خپل ذات کې باید یو لومړیتوب وي او دغه کار په دې هیواد کې د ثبات د زیاتوالي یوه وسیله هم کېدای شي. د هغو کسانو لپاره چې روغتیايي پاملرنې ته اړتیا لري، د دې پاملرنې لګښتونه – د وخت او پیسو دواړو په لحاظ – کولای شي کورنۍ د نیستي کندې ته ټیل و وهي او په دې کار سره د توند لاریتوب احتمال  نور هم  زیاتیږي.

په عین وخت کې، په افغانستان کې دننه کمزوری حکومتولي د یوه داسې قوي عامل په څېر پېژندل شوې چې د دولت ضد ډلی یی د فعالینو او نوو غړو د جلب او استخدام لپاره تری استفاده کوي. د افغان دولت لپاره د ښې اوغوره حکومتولي پراختیا ډېره مهمه ده؛ خو سره د دې، د حکومت په ډېرو ساحو کې د عامه خدمتونو عرضه کول لا اوس هم یوه ستونزمنه مساله ده. روغتیايي پاملرنه  (له یو څو استثنااتو پرته ، په خاص ډول د پولیو د خپرېدا د مخنیوي لپاره د واکسیناسیون مساله) یوه له داسې ساحو څخه ده چې په سیاسي لحاظ ډېره ستونزمنه ساحه نه ده. د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو له خوا هر عمل چې د افغانانو لپاره روغتیايي پاملرنه برابروي، باید له یوه مثبت نظر څخه وکتل شي.

## له ۱۹۲۰ راهيسي خپلواک فکر

AGA KHAN FOUNDATION

UK Government

چتهم هاوس، د نړیوالو چارو سلطنتي انستیتیوت، د پالیسي یو نړیوال مخکښ انستیتیوت دی چې مرکز یې په لندن کې دی. زموږ ماموریت دا دی چې له حکومتونو او ټولنو سره د یوې خوندي هوسا او عادلانه ټولنې په جوړولو کې مرسته وکړو.

ټول حقوق محفوظ دي. د دې خپرونې هیڅ یوه برخه د چاپولوحق د څښتن له لیکلې اجازې پرته نه شي کېدای بیا چاپ یا په یوه شکل یا په کومه الکترونیکي وسیله انتقال شي. په دې طریقه کې ریکارډ کول یا د معلوماتو د ذخیره کولو هره بله طریقه، د معلوماتو د ادعا کولو د سیستم په ګډون شاملیږي. مهرباني وکړئ هره پوښتنه له خپروونکی سره شریکه کړئ.

چتهم هاوس، د نړیوالو چارو سلطنتي انستیتیوت، خپل نظرونه نه څرګندوي. په دې خپرونه کې د څرګندو شوو نظرونو مسئولیت د لیکوال یا لیکوالو غاړه دی.

د چاپولوحق© د نړیوالو چارو سلطنتي انستیتیوت ، ۲۰۱۹

د انځورکریډیت: © Stephen Lioy

د ISBN شمېره : ۹۷۸ ۱ ۷۸۴۱۳ ۳۴۷ ۴

دا خپرونه د FSC له خوا په مجاز کاغذ چاپ شوې.

FSC

ټایپ: سوپ باکس Soapbox, www.soapbox.co.uk

د نړیوالو چارو سلطنتي انستیتیوت
چتهم هاوس
پته: 10 St James’s Square, London SW1Y 4LE
ټیلفون: +44 (0)20 7957 5700 فکس: +44 (0)20 7957 5710
بریښنالیک: contact@chathamhouse.org www.chathamhouse.org

د ټولنې د ثبت شمېره: 208223